مؤسسة الشيخ
محمد بن صالح العثيمين الخيرية
رحمه الله تعالى

# د حیض او نفاس
# د احکامو په اړه

# ۶۰ شپیته پوښتنې

لیکنه :

## محمد بن صالح العثیمین

- رحمه الله -

شركاء التنفيذ

جمعية
خدمة المحتوى الإسلامي
باللغات

# د حیض او نفاس
# د احکامو په اړه

# ۶۰

## شپیته
## پوښتني

## فهرست


وړاندوينه ........................................................................ 1
په لمانځه او روژه کې د حيض د احکامو ښخه............................................ 2
په لمانځه کې د پاکوالي له احکامو ښخه ............................................ 23
د حيض ځيني احکام په حج او عمره کې............................................... 27

بسم الله الرحمن الرحیم

## وړاندوینه

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله محمد بن عبد الله وآله وصحبه ومن سار على دربه إلى يوم الدّين، وبعد:

**مسلمانې خورې!**

هغو ډېرو پوښتنو ته په پام کې نیولو سره چې د حیض د احکامو په اړه په عباداتو کې د علماوو څخه کیږي، دا مو مناسب ولیدل چې موږ هغه پوښتنې چې ډېر او تل تکراریږي پرته لدې چې موضوع پراخه کړو، تاسو ته یې په لنډه توګه وړاندې کوو.

**مسلمانې خورې!**

موږ کوښښ وکړ چې هغه راټول کړو؛ ترڅو تل تاسو ورته لاس رسی ولرئ او دا د الله تعالی په شرعي باندې د پوهیدلو د اهمیت له امله، ترڅو په علم او بصیرت سره د الله عبادت وکړې.

**خبرداری:** هغه کسان چې په لومړي ځل باندې ددغی کتاب پاڼې اړوي داسې ورته ښکاري چې ځینې پوښتنې تکراري دي، مګر د فکر کولو وروسته به معلومه شي چې په بل ځواب کې د معلوماتو او پوهاوي زیاتوالی شتون لري، او موږ وغوښتل چې دغه زیاتوالی له پامه ونه غورځول شي.

او درود دې وي زموږ پر نبي محمد، صلی الله علیه وسلم د هغه پر کورنۍ او د هغه پر ټولو اصحابو.

***

**سوال-1: که ښځه د سهار له راختلو سره سم پاکه شي نو آيا په دې ورځ روژه کيدلی شي، او دغه ورځ د هغې لپاره حسابيږي او که يا د دې ورځې قضايي وربانديې راځي؟**

**جواب-1:** که کومه ښځه د سهار له راختلو وروسته پاکه شي نو د هغې د روژې نيولو په اړه د علماوو دوه ويناوې دي:

**لومړۍ وينا:** دا چې د دې ورځې پاتې برخه بايد روژه ونيسي، مګر دغه ورځ د هغې لپاره نه حسابيږي، بلکې ددغې ورځې قضاء بايد راوړي، او دا د امام احمد – رحمه الله- د مذهب مشهور قول دی.

**او دوهمه وينا:** چې د دې ورځې پاتې برخه روژه دې نه نيسي؛ ځکه چې د دې ورځې روژه نه ده روا؛ ځکه چې هغه په دې ورځ په لومړي سر کې هغه حيض لرونکې ښځه وه نو هغه د روژه نيونکو له جملې څخه نه وه، او که پدې ورځ روژه نيول صحيح نه وي نو په نيولو کې يې هيڅ ګټه نشته، او دا وخت د هغې لپاره د احترام وړ نه دی؛ ځکه چې هغې ته د ورځې په پيل کې د روژې د ماتولو امر شوی دی، بلکې د هغې لپاره د ورځې په پيل کې روژه نيول حرام ګڼل شوي و.

**او شرعي روژه:** له سهار څخه تر لمر لوېدو پورې له هغو څيزونو ډډه کول دي چې روژه ماتوي د الله –عزوجل- د عبادت کولو په نيت.

**او دا وینا** –لکه څنګه چې تاسو یې ګورئ– راجح او غوره ده لدې قول څخه چې پاتې ورځ دې روژه ونیسي، او په دواړو ویناو کې د دې ورځې قضاء اړینه ده.

**سوال–2:** که حیض لرونکې ښځه پاکه شي، او د سهار له لمانځه وروسته غسل وکړي، لمونځ وکړي اوددې ورځې روژه ونیسي، ایا هغې باندې ددې ورځې قضاء واجب ده؟

**جواب–2:** که حیض لرونکې ښځه د سهار له راختلو مخکې پاکه شي که څه هم یوه دقیقه مخکې وي، او بشپړې پاکوالۍ باندې ډاډمنه وي، نو که د رمضان په میاشت کې وي نو روژه پرې واجبه ده، او د هغې ورځې روژه یې صحیح ده، او قضایې پرې لازمه نده؛ ځکه چې هغې د پاکۍ په حالت کې روژه نیولې ده، که څه هم له سهاره څخه وروسته غسل وکړي نو پر هغې باندې څه حرج نشته، همدا ډول که یو سړی د جماع او یا د احتلام په حالت کې وي، او پیشلمی هم وکړي، او تر سهاره پورې یې غسل نه وي کړی بیا هم روژه یې صحیحه ده. په دې اړه غواړم د ښځو لپاره یوه بله خبره هم په ګوته کړم چې کله هغې روژه نیولې وي او هغې باندې حیض راشي، ځینې ښځې پدې اند دي چې که حیض یې د ماخستن تر لمانځه مخکې راشي، نو د دې ورځې روژه باطلیږي، دې خبرې باندې هیڅ دلیل نشته، بلکې که د لمر له لویدو وروستهورباندې حیض راشي، که څه هم د یوه شیبه وروسته هم وي، نو روژه یې بشپړه او صحیحه ده.

**سوال–3:** که ښځه د نفاس څخه تر څلویښتو ورځو مخکې پاکه شي نو ایا روژه او لمونځ پرې واجب دي؟

**جواب–3:** هو، که ښځه د نفاس څخه تر څلویښتو ورځو مخکې پاکه شي نو روژه او لمونځ پرې واجب دي که د روژې په میاشت کې وي، او مېړه یې هم ورسره جماع کولی شي؛ ځکه چې هغه پاکه ده، او داسې څه نشته چې د روژې نیولو، لمونځ کولو، او د جماع د جواز مانع وګرځي.

**سوال-4:** که د ښځې د حيض موده اته يا اوه ورځې وي، او بيا له هغې څخه يو يا دوه ځلې ډير دوام وکړي نو څه حکم لري؟

**جواب-4:** که د دې ښځې عادت شپږ يا اوه ورځې وي، او دا موده اوږده شي او اته، نهه، لس يا يوولس ورځې شي، نو تر هغه وخته پورې لمونځ نه کوي تر څو چې پاکه شي، دا ځکه چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د حيض لپاره کوم خاص حد نه دی ټاکلی.

او الله تعالی فرمايلي دي: {وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى}. [البقرة:222].

{او دوی له تا نه د حيض په باره کې پوښتنه کوي، ته ووايه: دا يوه پليتي ده}.

کله چې دا وينه پاتې شي، ښځه به تر هغه وخته انتظار باسي تر څو چې پاکه شي، بيا به غسل او لمونځ وکړي، او که په دوهمه مياشت کې هغې باندې کمه راشي، نو که پاکه شوې وي غسل دې وکړي، که څه هم د پخوانی حيض سره سمون و نلري.

مهمه خبره دا ده چې کله ښځه د حيض په حالت کې وي نو لمونځ دې نکوي، که حيض د مخکيني عادت سره ورته والی ولري يا يې و نلري، يا لږه وي او يا ډيره وي، او کله چې پاکه شي نو لمونځ دې وکړي.

**سوال-5:** ايا ښځې به د نفاس په وخت کې څلوېښت ورځې ناستې وي، نه به لمونځ کوي او نه به روژه نيسي، او که نه اعتبار د وينې بندېدو لره دی، نو کله چې وينه بنده شوه پاکه شوه او لمونځ به کوي، او د پاکوالي کمه موده څومره ده؟

**جواب-5:** د نفاس لرونکي ښځې لپاره محدود وخت نشته، بلکې ترڅو چې وينه موجوده وي هغه د نفاس په دوره کې وي، لمونځ به نه کوي، روژه به نه نيسي، او ميړه به ورسره جماع نه کوي.

او هرکله چې پاکي ووينې – حتا که له څلويښتو ورځو څخه مخکې هم وي –، حتا که پرته له لسو يا پنځو ورځو هم لږ ناسته وي نو لمونځ دې وکړي، روژه دې ونيسي او ميړه يې ورسره جماع کولی شي، او په دې کې څه حرج نشته.

مهمه خبره دا ده چې نفاس يو محسوس عمل ده، احکام يې د شتون او نه شتون پورې تړلي دي، نو کله چې شتون ولري، احکام يې ثابتيږي، او کله چې ترې پاکه شي، احکام يې هغې باندې نه تطبيقيږي.

خو که له شپيتو ورځو څخه زيات شي نو هغه پدې وخت کې مستحاضه بلل کيږي، او يوازې تر هغه وخته پورې به ناسته وي چې د حيض موده يې وي، بيا به غسل وکړي او لمونځ دې ادا کړي.

**سوال-6:** که د رمضان په مياشت کې د ورځې په اوږدو کې له ښځې څخه د وينې محدود څاڅکي ووځي، او دغه وينه د رمضان مياشت کې د هغې سره دوام ومومي او روژه هم ونيسي، ايا د دې روژه صحيح ده؟

**جواب-6:** هو، د هغې روژه صحيح ده، او دا د وينې څاڅکي هيڅ نه دي؛ ځکه چې دا له رګ څخه ده، او له علي بن ابي طالب –رضي الله عنه– څخه نقل شوي دي چې هغه وويل: دا څاڅکي چې د پوزې د وينې کيدلو په څېر دي حيض نه دی. په دې ډول له هغه –رضي الله عنه– څخه ذکر شوی دی.

**سوال-7:** که حيض يا نفاس لرونکې ښځه د سهار تر لمانځه مخکې پاکه سي، او وروسته له سهاره غسل وکړي، ايا د هغې روژه صحيح ده او که نه؟

**جواب-7:** هو، د حايضې ښځې روژه په هغه صورت کې صحيح ده چې له سهاره مخکې پاکه شوې وي او د سهار تر راختلو پورې يې غسل نه وي کړی، او همدارنګه د نفاس لرونکې ښځې؛ ځکه هغوی پدې وخت کې د روژه نيوونکو څخه دي، او دوی په دې وخت کې

داسي دي لكه چې پر چا باندې جنابت وي، كه د جنابت په حالت كې پر چا باندې سهار راوخيژي نو روژه يې صحيحه ده؛ د الله تعالى ددې قول پر اساس: {فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُواْ مَا كَتَبَ اللّهُ لَكُمْ وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ}. [البقرة:187].

(نو اوس له هغوی سره مُباشَرت (كوروالى) كوئ او څه چې الله تاسو لپاره ليكلي دي هغه لټوئ، او خورئ، او څښئ تر هغه چې تاسو ته سپين تار د سبا له تور تار نه ښه ښكاره (او بېل) شي)، او كله چې الله –تعالى- د سهار تر روښانه كيدو پورې جماع كولو ته جواز وركړى، نو غسل بايد د سهار له راختلو وروسته وشي، او د عائشې –رضي الله عنها- د حديث له مخې چې رسول الله –صلى الله عليه وسلم- باندې به سهار راختلو، په داسې حال كې چې له خپلې كور والا سره به يې كوروالى كړى و او هغه به روژه و. يعنې: دا چې هغه –عليه الصلاة والسلام- له جنابت څخه به يې غسل نه كاوه مګر د سهار د راختلو وروسته.

**سوال-8:** كه ښځه وينه احساس كړي او د لمر له لوېدو مخكې خارج نشي، او د حيض درد احساس كړي، نو د هغې ورځې روژه صحيح ده او يا قضا وربانديې واجب دى؟

**جواب-8:** كه پاكه ښځه د روژې په حالت كې د حيض د راتللو احساس وكړي، خو تر لمر لوېدو پورې خارج نشي، او يا د حيض درد احساس وكړي، مګر د لمر د لوېدو څخه وروسته خارج شوى وي، نو د دى ورځې ورژه يې صحيحه ده، كه فرضي روژه وي قضا وربانديې نشته، او كه د نفلي عمل وي د هغې ثواب نه باطليږي .

**سوال-9:** كه ښځه وينه ووينې او ډاډه نه وي چې دا د حيض وينه ده نو په دې ورځ روژه نيول څه حكم لري؟

**جواب-9:** د هغې ورځ روژه صحيحه ده؛ ځكه چې اصل دا دى چې حيض نده تر څو چې هغې ته څرګنده نه شي چې دا حيض دى.

**سوال-10:** ځینې ښځې یوه ښځه د ورځې په اړدو کې د وینې کوچنی نښې یا ډېر لږ ټکي وینې، ځینې وختونه یې د حیض په وخت کې وینې او هغه لا راوتلې نه وي، او ځینې وختونه یې د خپل عادت (حیض) نه پغیر بل وخت کې وینې، نو په دې دواړو حالتونو کې د دې د روژې څه حکم دی؟

**جواب-10:** دې ته ورته پوښتنې ته مخکې ځواب ورکړ شوی دی، خو دا پاتې ده چې که دا ټکي د عادت په ورځو کې وي او هغه یې حیض وګڼي چې ښځه ښه پوهېږي، نو پدې وخت کې حیض دی.

**سوال-11:** ایا حیض او نفاس لرونکې ښځې د رمضان په میاشت کې د ورځې خوراک او څښاک کولای شي؟

**جواب-11:** هو، هغوی په رمضان کې د ورځې خوراک او څښاک کولی شي، مګر دا غوره ده چې په پټه وي که چیرې د هغې په کور کې ماشومان وي؛ ځکه چې دا به ماشومانو لپاره ستونزې رامینځته کړي.

**سوال-12:** که د حیض او نفاس لرونکې ښځې د مازدیګر په وخت کې پاکې شي، ایا د ماسپښین او مازیګر لمونځونه باید ادا کړي، او که نه یوازې د مازیګر لمونځ باید ادا کړي؟

**جواب-12:** په دې مسله کې راجح قول دا دی چې: یوازې د مازیګر لمونځ باید ادا کړي؛ ځکه چې د ماسپښین لمونځ په وجوب باندې دلیل نشته، او اصل د ذمې خلاصون دی، او بیا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: **«من أدرك ركعةً من العصر قبل أن تغرب الشمس فقد أدرك العصر»** "چا چې د مازیګر د یو رکعت په اندازه وخت و موندو د لمر له لوېدو مخکې، نو هغه مازیګر موندلی دی"، اود ماسپښین د راګیرولو خبره یې نه ده کړې، او که د ماسپښین لمونځ واجب وی نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به بیان کړی وی، ځکه چې که ښځه د ماسپښین وروسته حائضه شي نو یوازې د ماسپښین وخت پرې واجب دی، پرته د مازیګر

لمونځ څخه، حال دا چې د ماسپښین لمونځ د مازیګر لمونځ سره جمع کیږي، او ددواړو صورتونو تر منځ هیڅ توپیر نشته چې په اړه یې پوښتنه وشوه.

په دې اساس راجح قول دا دی چې یوازې د مازیګر لمونځ دی باید ادا کړي؛ د نص د دلالت او د هغې سره د قیاس پر اساس، او همدا راز که هغه د ماخستن د لمانځه د وتلو له وخته مخکې پاکه شي، نو یوازې د ماخوستن لمونځ پرې واجب دی، او د ماښام لمونځ پرې لازم نه دی.

**سوال-13:** ځینې ښځې چې سقط کوي د یو حالت څخه خالي نه وي: یا د جنین له جوړښت څخه مخکې سقط کوي، او یا له جوړښت او په هغه کې د خطونو د څرګندیدلو وروسته سقط کوي، نو د دغې ورځې روژه نیول دې ښځې ته څه حکم لري چې سقط یې کړی وي، او په هغه ورځو کې روژه نیول چې وینه ویني؟

**جواب-13:** که جنین نه وي جوړ شوی، نو دا وینه د نفاس وینه نه ده، په دې اساس روژه دې ونیسي او لمونځ دې ادا کړي، او روژه یې صحیحه ده.

که جنین جوړ شوی وي، نو وینه د نفاس وینه ده، د هغې لپاره لمونځ کول او روژه نیول روا نه دي.

او په دې مسله کې قاعده یا ضابط دادی چې: که جنین جوړ شوی وي نو وینه یې د نفاس وینه ده، او که جوړ شوی نه وي نو وینه یې د نفاس وینه نه ده، او که وینه یې د نفاس وي پر هغې باندې هغه څیزونه حرام دي چې د نفاس لرونکې ښځو باندې حرامې دي، او که وینه د نفاس وینه نه وي نو په دې حالت هغه څیزونه هغې باندې حرام ندي.

**سوال-14:** د روژې میاشت د ورځې لخوا د امیندوارې ښځې څخه وینه راتلل، ایا دا د هغې په روژه اغیزه کوي؟

**جواب-14:** که د حیض وینه ووځي او ښځه روژه وي نو روژه یې فاسدیږي؛ لکه څنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: **«أليس إذا حاضت لم تصلّ، ولم تصم؟»**

«ايا داسې نه ده چې ښځه حايضه وي نو لمونځ نه کوي او روژه نه نيسي؟»

له همدې امله موږ دا د روژې د ماتولو له څيزونو څخه ګڼو، او نفاس هم په همدې ډول دی، او د حيض او نفاس وينې بېدل روژه ماتوي.

او د روژې په مياشت کې له حامله ښځې څخه د ورځې لخوا د وينې راتلل که حيض وي نو د هغه ښځې د حيض په شان ده چې حامله نه وي، يعنې: د هغې په روژه باندې اغيز کوي، او که حيض نه وي نو په هغې باندې هيڅ اغيز نه کوي.

هغه حيض چې د اميندواره ميرمنې څخه واقع کيدی شي دا هغه دوامداره حيض دی چې د اميندوارۍ راهيسې نه وي بند شوی، بلکې هغې ته د عادت په وخت کې راځي، نو دا د راجح قول له مخې حيض ده، او د حيض احکام پرې ثابتيږي.

خو که وينه پرې ودريږي، او له هغه وروسته وينه ويني چې د عادت وينه نه وي، نو په روژه يې هيڅ اغيز نه کوي؛ ځکه چې دا حيض نه دی.

**سوال-15:** که يوه ښځه د عادت په ورځو کې يوه ورځ وينه ويني او بله ورځ ټوله ورځ وينه ونه ويني، نو دغه ښځه دې څه وکړي؟

**جواب-15:** ظاهراً دا پاکوالی يا وچوالی چې د هغې په حيض کې واقع شوی دی د حيض پورې تړاو لري، نو پاکوالی نه ګڼل کېږي، نو له همدې امله دغه ښځه به منعه کېږي له هغه څه چې حايضه ښځه ورڅخه منعه کېږي.

ځينو علماوو ويلي دي: که يوه ورځ وينه ويني او بله ورځ پاکه وي، نو وينه يې حيض ده، او نقاء پاکي ده تر دې چې پنځلسو ورځو پورې ورسيږي، نو کله چې پنځلسو ورځو ته ورسېږي نو دا د استحاضې وينه ده. دا د امام احمد بن حنبل رحمه الله د مذهب مشهور قول دی.

**سوال-16:** د حيض په وروستيو ورځو کې او د پاکۍ څخه مخکې ښځه د وينې هيڅ نښې نه ويني، ايا د سپينې مايع د ليدلو پرته په دې ورځ روژه ونيسي، او که يا څه وکړي؟

**جواب-16:** که د هغې عادت وي چې سپین مایع نه ویني لکه څنګه چې د ځینو ښځو عادت دی نو روژه دې ونیسي، او که عادت يې وي چې سپین مایع وګوري نو روژه دې نه نیسي تر څو چې سپین مایع ونه ویني.

**سوال-17:** د حائضې او نفاسې ښځې د قرآن کریم تلاوت کول لمخی او یا د حفظ څخه د ضرورت په صورت کې څه حکم لري، لکه زده کوونکې او یا استاده؟

**جواب-17:** د حیض او نفاس په حالت کې د حاجت په صورت کې د قرآنکریم تلاوت کول هیڅ حرج نه لري، لکه هغه ښځه چې ښوونکې او یا زده کوونکې وي، چې د شپې او یا د ورځې په وخت کې قرآن کریم تکرار کړي.

مګر تلاوت -زما مطلب دا دی: د قرآن تلاوت د ثواب او اجر لپاره ولوستل شي- نو غوره ده چې دا ونه کړي؛ ځکه چې ډېری یا اکثره علماء په دې باور دي چې د حایضې ښځې لپاره د قرآن کریم لوستل روا نه دي.

**سوال-18:** ایا حائضه ښځه باید له پاکوالي وروسته خپلې جامې بدلې کړي، سره له دې نه چې وینه او نجاست ورته نه وي رسیدلی؟

**جواب-18:** نه، لازم ندي؛ ځکه چې حیض بدن نه نجس کوي، بلکې د حیض وینه یوازې هغه څه ناپاک کوي چې ورته رسیدلی وي، او له همدې امله رسول الله- صلی الله علیه وسلم- ښځو ته امر کړی، چې که د حیض وینه د دوی په جامو باندې ولګیږي، هغه باید ومینځي، او په خپلو جامو کې دې لمونځ وکړي.

**سوال-19:** یوې ښځې د رمضان په میاشت کې اوه ورځې روژه ماته کړه په داسې حال کې چې هغه نفاسه وه، او د روژې قضا يې و نه نیوله تر څو چې دویم رمضان هغې باندې راغی، او په دویم رمضان کې يې اوه ورځې د شیدو ورکولو لپاره ور څخه پاتې شولې، او د روژې قضاء يې نه وه ادا کړې؛ د ناروغۍ په عذر سره، نو دغه ښځه څه باید وکړي پداسې حال کې چې

دریم رمضان هم نږدې دی؟ مهرباني وکړئ موږ ته مشوره را کړئ، الله دې تاسو ته اجر درکړي.

**جواب-19:** که دا ښځه لکه څنګه چې هغې د ځان په اړه ویلي دي -چې هغه ناروغه وه، او د روژې قضایي نشي راوړی– نو هغه دې هر کله چې وکولی شي روژه دې ونیسي؛ ځکه چې هغه معذوره ده، که څه هم دویمه روژه هم وربانديې راشي.

خو که د هغې لپاره عذر نه وي، مګر د سستي او غفلت لمخې وي، نو د روژې په قضایي کې تر دوهمې روژې پورې ځنډول روا نه دي، عایشه -رضي الله عنها- فرمايي: ما باندې به د روژې قضايي وه نو له شعبان پرته به مې قضا نه شوه ادا کولی.

په دې اساس دا ښځه دې باید خپل ځان ته وګوري، که عذر يې نه وي، نو هغه ګناهګاره ده، او باید الله ته توبه وباسي، او د روژې په قضاء کې دې بیړه وکړي، او که عذر ولري نو څه حرج وربانديې نشته، حتا که یو کال یا دوه کاله وربانديې تیرې شي.

**سوال-20:** ځینې ښځې دویم رمضان ته داخلیږي مګر د تیر رمضان ځینې روژې يې نه دي نیولي، نو هغوی لره څه کول پکار دي؟

**جواب-20:** دوی باید: له دې عمل څخه الله ته توبه وباسي؛ ځکه چې د رمضان د روژې قضاء له عذر پرته تر دویم رمضان پورې ځنډول روا نه دي؛ عایشه -رضي الله عنها- د قول له مخې چې فرمايي: **ما باندې به د رمضان د روژې قضايي وه، نو له شعبان پرته به مې قضايي نشوه ادا کولی.**

دا په دې دلالت کوي چې د روژې قضا تر دوهم رمضان پورې نه شي ځنډولای، نو باید د الله -عزوجل- ته د خپل کړني څخه توبه وباسي، او خپلې قضايې ورځې دې له دویم رمضان وروسته ادا کړي.

**سوال-21:** د مثال په توګه که ښځې باندې د ماسپښین په یوه بجه حیض راشي، او هغې د ماسپښین لمونځ نه وي ادا کړی، ایا د پاکوالي وروسته د دغه لمونځ قضا باید راوړي؟

**جواب-21:** په دې اړه د علماوو اختلاف دی، ځینو ویلي دي چې: هغې باندې د دې لمونځ قضاء نشته؛ ځکه چې هغې افراط نه دی کړی او نه یې ګناه کړې ده؛ او د هغې لپاره روا ده چې لمونځ د وخت تر پای پورې وځنډوي. او ځینو ویلي دي چې: هغه باید د دې لمانځه قضاء راوړي؛ د رسول الله – صلی الله علیه وسلم- د وینا د عام مفهوم له مخې: **«من أدرك ركعة من الصلاة فقد أدرك الصلاة»**

**"چا چې د لمونځ یو رکعت راګیر کړو، نو هغه لمونځ راګیر کړو".**

**او د احتیاط له مخې :** د لمونځ قضا دې ادا کړي؛ ځکه چې دا یو لمونځ دی، د هغې په ادا کولو کې هیڅ سختي نشته.

**سوال-22:** که حامله ښځه د ولادت څخه یوه یا دوه ورځې مخکې وینه ووینې نو روژه او لمونځ دې پریږدي او که څنګه؟

**جواب-22:** که حامله ښځه د ولادت څخه یوه یا دوه ورځې مخکې وینه ووینې، او ورسره د ولادت دردونه وي نو دا نفاس ده، ددې لپاره لمونځ او روژه پریښودل کیږي، او که له وینې سره د ولادت درد نه وي دا فاسده وینه ده او هغې لره هیڅ اعتبار نشته، او دغه وینه ښځه له لمونځ او روژې څخه نه منعه کوي.

**سوال-23:** د حیض د مخنیوي لپاره د ګولیو استعمالول په اړه ستاسو نظر څه دی؛ ترڅو له نورو خلکو سره روژه وشي نیولی؟

**جواب-23:** زه له دې څخه خبرداری ورکوم، ځکه چې دا ګولۍ لوی زیان لري، دا ما ته د ډاکټرانو لخوا ثابته شوېده، او ښځې ته باید وویل شي: دا هغه څه دي چې الله د آدم د لونړو لپاره حکم کړی دی، نو په هغه څه راضي شه چې الله تعالی حکم کړی دی، او روژه ونیسه

کله چې د هغې مانع شتون و نلري، او که چیرې کوم مانع وي، نو روژه ماته کړه، په هغه څه راضي شه چې د الله تعالی لخوا مقدر شوي وي.

**سوال-24:** یوه ښځه د ولادت څخه دوه میاشتې وروسته، وروسته لدې چې پاکه شوه د وینې څو څاڅکي یې ولیدلې، نو ایا روژه دې ماته کړي، او لمونځ دې نه کوي؟ او که یا هغه څه وکړي؟

**جواب-24:** د ښځو د حیض او نفاس ستونزې د هغه سمندر په څیر دي چې ساحل نلري، او د لاملونو څخه یې: د حمل او حیض د مخنیوي لپاره د ګولیو کارول، او مخکني خلک په دې ډول ډیرو ستونزو باندې نه پوهیدل، دا سمه ده چې ستونزې د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له رسالت څخه او حتا د ښځو له پیدایښت سره هم موجودې وې، خو له بده مرغه چې په دې کچه زیاتیدل او حلول یې انسان حیرانوي.

مګر عمومي قاعده داده چې: که ښځه پاکه شي او هغه د حیض او نفاس پاکوالی وګوري -زما هدف د پاکوالي څخه د حیض پرمهال پاکوالی دی: د سپینې مایع څرګندیدل، چې هغه سپینې اوبه دي چې میرمنې یې پیژني- او د پاکوالي څخه وروسته که خړوالی، ژیړ، یا داغ، یا رطوبت ولیدل شي حیض نه دی، او د لمانځه، روژې، او سړي له د خپلې میرمنې سره د جماع څخه مانع نه ګرځي؛ ځکه چې دا حیض نده، ام عطیه وویل: موږ به ژیړوالی او خړوالی په هیڅ کې نه شمیره.

بخاري روایت کړی، ابو داود زیاته کړه: له پاکوالي وروسته. او ددې سند صحیح ده.(۱)

په دې اساس موږ وایو: هر هغه څه چې له دې څیزونو څخه له پاکوالي وروسته پیښیږي، ښځې ته زیان نه رسوي، او دلمانځه، روژې او له مېړه سره د جماع کولو مانع نه ګرځي، مګر هغه دی باید بیړه ونکړي تر څو چې پاکوالی ونه ګوري؛ ځکه چې ځینې ښځې کله چې وینه یې وچه شي نو په بیړه باندې غسل کوي مخکې له دې چې پاکي ووینې، له همدې امله د صحابه وو

ښځو به د مؤمنانو مور عائشې –رضي الله عنها– ته کرسف ورلېږلې، یعنې: مالوچ چې په کې وینه وي، نو هغې به ورته ویل: تلوار مه کوه تر هغه چې تاسو سپین مایع وګورئ.

**سوال–25:** د ځینو ښځو وینه دوام مومي، او کله کله د یوې یا دوې ورځو لپاره ودرېږي، او بیا راګرځي، نو په دې صورت کې د روژې، لمانځه او نورو عبادتونو حکم څه دی؟

**جواب–25:** هغه څه چې د ډېرو علماوو نظر دی هغه دا دی چې که ښځه عادت ولري، او عادت یې ختم شي، باید غسل وکړي، لمونځ وکړي، او روژه ونیسي، او هغه څه چې له دوو یا دریو ورځو وروسته ویني حیض نه دی؛ ځکه چې د دغو علماوو له نظره د پاکۍ لږه موده دیارلس ورځې دي.

**ځینو علماء و ویلي دي:** کله چې وینه وویني نو حیض ده، او کله چې له دې څخه پاکه شي نو پاکه ده، که څه هم د دواړو حیضونو تر منځ دیارلس ورځې نه وي.

**سوال–26:** د ښځې لپاره کوم یو غوره ده: د رمضان په شپو کې په خپل کور کې لمونځ کول، او یا په جومات کې، په ځانګړې توګه که چیرې جومات کې درسونه او موعظې وي؟ او هغه ښځو ته چې په جوماتونو کې لمونځ کوي ستاسو نصیحت څه دی؟

**جواب–26:** غوره داده چې په خپل کور کې لمونځ وکړي؛ د رسول الله –صلی الله علیه وسلم– د عموم قول پر اساس: **«وبیوتهن خیر لهن».**

**"او د هغوی کورونه د هغوی لپاره غوره دي".**

او دا ځکه چې د ښځو وتل په ډیرو مواردو کې له فتنې څخه خوندي نه دي، نو دا چې ښځه په خپل کور کې پاتې شي، د هغې لپاره غوره ده چې په جومات کې د لمانځه لپاره ولاړه شي، وعظ او درسونه د کسټونو له لارې لاس ته راوړلی شي.

او زما لارښوونه هغو ښځو ته چې په جومات کې لمونځ کوي داده چې: له خپلو کورونو څخه پرته له زینت او خوشبو څخه ووځي.

**سوال-27:** د روژې په میاشت کې د روژه لرونکې ښځې لپاره د ورځې په اوږدو کې د خوړو څکل څه حکم لري؟

**جواب-27:** حکم يې داد دی چې: هیڅ ستونزه نشته؛ د اړتیا له مخې، مګر وروسته له څکلو دې هغه بېرته توف کړي.

**سوال-28:** کومه ښځه چې په حادثه کې ټپي شوې وي، او د حمل په لومړیو کې وه، او جنین يې له زیاتې وینې وروسته سقط کړه، آیا د هغې لپاره روژه ماتول روا دي، او یا باید خپله روژه بشپړه کړي؟ او که روژه ماته کړي نو ایا هغه ګناهکاره کیږي؟

**جواب-28:** موږ وایو: حامله ښځې باندې حیض نه راځي، لکه چې امام احمد رحمه الله فرمايي: ښځې د حیض په نشتوالي پوهيدلی چې حمل لري. او حیض - لکه څنګه چې علماوو ویلي دي – الله تبارک و تعالی هغه د مور په رحم کې د جنین د تغذيې لپاره رامینځته کړی، نو کله چې امیندواري رامینځته شي نو حیض بندیږي.

مګر د ځینو ښځو حیض ممکن چې له عادت څخه ډیر ته دوام ورکړي لکه څنګه چې دوی د امیندواری دمخه وې، نو دې ښځې باندې حکم کوو چې هغه حایضه ده ځکه چې حیض دوام لري، او په حمل باندې اغیزه نه کوي، نو دا حیض د هر هغه څه مانع کیږي چې د حیض په وسیله د غیر حامله ښځې د حیض مانع کیږي، او واجبوي هغه څه چې په هغه وخت کې واجبوي يې، او ساقطوي هر هغه څه چې هغه وخت کې ساقط کیدلې.

**خلاصه:** هغه وینه چې د امیندوارې ښځې څخه راوځي په دوه ډوله ده:

**یوه هغه ډول** چې د حیض حکم پرې کیږي، او هغه دا ده چې  دوام ولري لکه څرنګه چې يې د حمل څخه مخکې دوام درلود، پدې معنا چې: حمل په هغه باندې هیڅ اغیزه نه وي کړی، نو هغه حیض دی.

**دوهم ډول:** هغه وينه چې د حمل په وخت کې وتلې وي، يا د حادثې، او د څه شي پورته کول، او يا له کوم ځای څخه غورځېدلو په نتيجه کې منځ ته شوي وي او يا دې ته ورته حالات وي، نو دغه وينه د حيض وينه نه ده، بلکې د رګ وينه ده، په دې اساس د غه وينه له لمانځه او روژې مانع نه ګرځي، بلکې هغه د پاکو ښځو په حکم کې ده.

خو که د حادثې له امله د خيټې څخه ماشوم او يا حمل را ووځي، نو پدې صورت کې علماوو ويلي دي: که چيرې ماشوم او يا حمل راووځي چې د انسان شکل په کې ځرګند وي نو دغه راوتل نفاس ګڼل کيږي، چې په دې وخت کې يې لمونځ او روژه پرېښودل کيږي، او مېږه به يې تر هغه وخته پورې له هغې څخه ډډه کوي، ترڅو چې پاکه شي.

او که چيرته جنين په داسې حال کې راووځي چې د انسان شکل په کې ځرګند نه وي نو د نفاس وينه نه بلل کيږي، بلکه فاسده وينه ده، او هغه د لمانځه، روژې او نورو شيانو څخه نه منع کوي.

علماوو ويلي دي: د جوړښت موده: لږ تر لږه يو اتيا ورځې دي؛ ځکه چې جنين د مور په رحم کې وي. لکه څرنګه چې عبدالله بن مسعود- رضي الله عنه- فرمايي: **رسول الله -صلى الله عليه وسلم- موږ ته ويلي دي او هغه رښتيا ويونکی او ريښتينی ګڼل شوی دی**، هغه فرمايي: **«إن أحدكم يجمع في بطن أمه أربعين يوماً، ثم يكون علقة مثل ذلك، ثم يكون مضغة مثل ذلك، ثم يبعث إليه الملك ويؤمر بأربع كلمات، فيكتب رزقه، وأجله، وعمله، وشقي أو سعيد»**

**«ستاسو څخه يو څوک د خپل مور په خيټه کې تر څلويښتو ورځو پورې راغونډيږي، بيا به همدومره موده د وينې د ټوټې په څير وي، بيا به همدومره موده د ژول شوي غوښې د يوې ټوټې په څير وي، بيا به ملايک ورته وليږدول شي، او هغه ته به د څلورو کارونو امر وشي، د هغه د رزق، اجل، عمل، بدبختی او يا خوشبختی به ورته وليکل شي».**

او ممکن ندي چې تر دې مخکې پیدا شي، او ډېر احتمال شته چې له نویو ورځو وړاندې جوړښت څرګند نه شي، لکه چې ځینو علماوو ویلي دي. **سوال-29:** زه یوه ښځه یم چې یو کال وړاندې د امیندوارۍ په دریمه میاشت کې مې سقط وکړه، ما تر هغه وخته لمونځ و نه کړ تر څو چې پاکه شوم، بیا ماته وویل شول: تا باید لمونځ کړی وی. زه باید څه وکړم، او د ورځو دقیق شمیره هم ما ته نه ده معلومه؟

**جواب-29:** هغه څه چې د علماوو په نیز مشهور دي: که ښځه تر دریو میاشتو سقط وکړي، نو لمونځ دی نه کوي؛ ځکه چې که د ښځې جنین سقط شي چې په هغه کې د انسان شکل څرګند وي نو هغه وینه چې د هغې څخه وځي هغه نفاس ده چې هغه سره لمونځ نه کیږي.

**علماو ویلي دي:** د جنین جوړښت په هغه صورت کې څرګندیدلی شي چې یو اتیا ورځې یې بشپړې کړې وي، او دا د دریو میاشتو څخه کمې دي، او که دا یقیني شي چې جنین یې له دریو میاشتو څخه سقط شوی دی، نو هغه څه چې ورته پیښ شوي هغه د فساد وینه ده، نو د هغه لپاره لمونځ نه پریښودل کیږي.

دا سوال کونکې باید په یاد راولي چې که جنین له اتیا ورځو مخکې سقط شوی وي، نو د لمونځ قضا دې ادا کړي او که نه پوهیږي څومره لمونځونه هغې څخه پاتې شوي دي؟ هغه دې احتمالي اندازې باندې عمل وکړي چې غالباً څو لمونځونه یې ندي ادا کړي، هغه دې ادا کړي.

**سوال-30:** یو پوښتنه کوونکې وایي: له هغه وخته چې پر هغې روژه فرض شوې ده هغې د رمضان روژه نیولې ده، خو د هغې ورځو قضا یې ندی ادا کړې چې د حیض له امله یې روژې ندي نیولې، او د روژې شمېر باندې هم نه پوهیږي، نو هغه په دې اړه د لارښوونې غوښتنه کوي چې اوس څه وکړي؟.

**جواب-30:** له بده مرغه چې د مؤمنانو په ښځو کې داسې پیښیږي، ځکه دا غفلت – زما مطلب دا دی: د روژې په قضاء کې بې پروايي کول، یا د ناپوهۍ له وجې دی، یا د غفلت له

وجې، او دواړه حالتونه مصیبت دی؛ ځکه چې د نا پوهۍ درملنه په پوهې او پوښتنې سره کیږي، اما د غفلت درملنه د الله – عزوجل- څخه په تقوا، مراقبت، او د هغه له عذاب څخه ویرې سره کیږي، او هغه ته مخکې والی چې هغه یې خوښوي.

دغه ښځه باید الله ته د خپل عمل څخه توبه وباسي، او بخښنه وغواړي، او د هغه ورځو په اړه چې څومره یې پریښودل شوي وڅیړي او د خپلې وسې په اندازه قضا دې ادا کړي، او پدې توګه خپل مسؤلیت ادا کولی شي، او موږ هیله لرو چې الله به د هغې توبه قبوله کړي.

**سوال-31:** که ښځې باندې د لمانځه د وخت د داخلیدو څخه وروسته حیض راشي نو څه حکم لري؟ نو کله چې پاکه شي په هغې باندې یې قضا راوړل واجب دي کنه؟ او همدارنګه که هغه د لمانځه د وخت د ختمیدو نه پس پاکه شي؟

**جواب-31:** لومړی: که ښځې باندې د لمانځه له وخت څخه وروسته حیض راشي –یعنې: د لمانځه د وخت له داخلیدو څخه وروسته– کله چې هغه پاکه شوه نو باید هغه د لمونځ قضا دې ادا کړي، که هغې د حیض له راتلو دمخه لمونځ نه وي ادا کړې، د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- ددې قول پر اساس چې فرمایي: «**من أدرك ركعة من الصلاة فقد أدرك الصلاة**».

**"چا چې د لمونځ یو رکعت راګیر کړو، نو هغه لمونځ راګیر کړو".**

که ښځه د لمانځه د وخت د یو رکعت په اندازه وخت وموېي، او د لمانځه څخه مخکې هغې باندې حیض راشي، نو که هغه پاکه شي، هغې باندې قضاء لازمي ده. دویم: که د لمانځه له وخت څخه مخکې له حیض څخه پاکه شي، نو د دغه لمونځ باید قضا راوړي، که د لمر ختلو مخکې د یو رکعت په اندازه پاکه شي، د سهار لمونځ قضایې پرې واجبه ده، که د لمر د لویدو څخه مخکې د یو رکعت په اندازه وخت پاتې وي او پاکه شي، د مازیګر لمونځ پرې واجب دی، که د نیمې شپې څخه مخکې د یو رکعت په اندازه وخت پاتې وي او پاکه شي نو د ماخوستن لمونځ پرې واجب دی. که د نیمې شپې څخه وروسته د یو رکعت په اندازه وخت پاتې وي او

پاکه شي نو د ماخوستن لمونځ پرې واجب ندی، او هغه باید د سهار لمونځ ادا کړي هر کله چې وخت یې راشي. الله سبحانه وتعالی فرمایي: {فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا}. [النساء:103].

(چې کله تاسو مطمئن (ډاډمن) شئ، نو لمونځ قایموئ (د اطمینان د حالت لمونځ) بېشکه لمونځ په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی).

یعني: په محدود وخت کې ټاکل شوی فرض دی، د انسان لپاره دا روا نه ده چې لمونځ له خپل وخت څخه بهر کړي، او نه یې له وخت څخه مخکې پیل کړي.

**سوال-32:** د لمانځه پر مهال ما باندې حیض راغی، څه باید وکړم؟ ایا د حیض د وخت لمونځ قضا ادا کړم؟

**جواب-32:** که حیض د لمونځ د وخت څخه وروسته واقع شي -لکه څنګه چې د هغې حیض د زوال څخه نیم ساعت وروسته پیښ شي د بیلګې په توګه- بیا کله چې د حیض څخه پاکه شي، د هغه لمونځ قضا دې ادا کړي چې وخت یې داخل شوی و او هغه پاکه وه؛ د هغه تعالی د قول پر اساس: {إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا} [النساء:103].

(بېشکه لمونځ په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی).

د حیض د وخت لمونځ قضا نه ادا کیږي؛ لکه څنګه چې هغه – صلی الله علیه وسلم- په یو اوږد حدیث کې فرمایلي دي: «**أليست إذا حاضت لم تصل ولم تصم**».

**«ایا داسې نده چې کله حیضورباندې راشي لمونځ دې نکوي او روژه دې نه نیسي؟».**

او د علماوو په دې خبره اتفاق دی چې د حیض په وخت کې که لمونځ ورڅخه قضا شوی وي هغې باندې قضاء نشته. او که هغه پاکه شوه، او یو یا ډیر رکعت په اندازه وخت پاتې وي، نو هغه باید د هغه وخت لمونځ ادا کړي چې په هغه وخت کې پاکه شوې وي؛ د هغه –صلی الله

علیه وسلم- د وینا پر اساس: **«من أدرك ركعة من العصر قبل أن تغرب الشمس فقد أدرك العصر».**

**«چا چې د مازیګر د لمانځه یو رکعت د لمر د لویدو څخه مخکې راګیر کړو، نو هغه مازیګر راګیر کړو»،** او که مازیګر یا د لمر له راختلو مخکې پاکه شي، او له لمر لویدو او لمر ختلو ته د یو رکعت په اندازه وخت پاتې وي، نو د مازیګر لمونځ به ادا کوي په لومړۍ مسأله کې، او د سهار لمونځ په دویمه مسأله کې.

**سوال-33:** زه یوه مور لرم چې پنځه شپیته کلنه ده، نولس کاله کیږي چې اولادونه یې نه دي زیږولي، اوس هغې څخه وینه بهیږي، ددې ستونزې درې کاله کیږي، داسې ښکاري چې دغه ناروغي هغې لپاره د پخوا وخت څخه پاتې وي، دا چې هغې باندې د رمضان میاشت راځي، تاسو ورته څه مشوره ورکوئ؟ او د هغې په څیر کس څه باید وکړي؟

**جواب-33:** د داسې ښځې لپاره چې وینه یې بهیږي حکم یې دا دی: چې هغه دې خپل پخواني حیض -مخکې لدې چې دغه ستونزه ورته پیدا شوې ده- د نیټې په اندازه دې لمونځ او روژه پریږدي، د مثال په توګه که د هغې عادت دا وي چې حیض یې د میاشت په پیل کې د شپږو ورځو لپاره وي، نو هغه د هر میاشت په پیل کې د شپږو ورځو لپاره دې لمونځ نه کوي او روژه دې نه نیسي، او هرکله چې دغه موده ختمه شوه نو غسل دې وکړي، لمونځ دې وکړي او روژه دې ونیسي.

او د دې ښځې او دې ته ورته ښځو ته د لمونځ کولو طریقه: خپله شرمګاه دې په بشپړه توګه ومینځي، او یوې ټوټې سره دې بنده کړي، اودس دې وکړي، او د هر فرض لمونځ د وخت په داخلیدو سره دې همداسې وکړي، او که وغواړي چې د فرض لمونځونو د وخت پرته نفلي لمونځ ادا کړي همدا کار دې وکړي.

په دې حالت کې –او هغې باندې د سختۍ لپاره– د هغې لپاره د ماسپښین او مازیګر لمونځونه سره، او د ماښام له ماخوستن لمونځونو سره یوځای کول روا دي؛ ترڅو د هغې یو عمل د دوو لمونځونو لپاره اوسي: د ماسپښین لمونځ او د مازیګر لمونځ. او یو د دوو لمونځونو لپاره اوسي: د ماښام او ماخوستن لمونځونه.

او یو د سهار د لمانځه لپاره، د پنځو وختونو پر ځای درې وخته وکړي.

او دوهم ځل یې بیا هم تکراروم، او وایم: کله چې دغه ښځه وغواړي ځان پاک کړي نو باید خپل شرمګاه ومینځي، او په یوې ټوټې یا داسې څه باندې یې بنده کړي تر څو چې وینه بهر نشي، بیا دې اودس وکړي، او د ماسپښین لمونځ دې څلور رکعته وکړي، د مازیګر لمونځ دې څلور رکعته وکړي، د ماښام لمونځ دې درې رکعته وکړي، د ماخوستن لمونځ دې څلور رکعته وکړي، او د سهار لمونځ دې دوه رکعته وکړي، یعنې: قصر دې نه کوي، لکه څنګه چې ځینې عام خلک تصور کوي.

خو د هغې لپاره روا ده چې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه سره یو ځای ادا کړي، د ماښام او ماخوستن لمونځونه سره یو ځای ادا کړي، ماسپښین د مازیګر سره یا په جمع تقدیم او تاخیر(۱) سره ادا کړي، او همدارنګه د ماښام او ماخوستن لمونځونه په جمع تقدیم او تاخیر سره ادا کړي، او که وغواړي په همدې اودس سره نفل لمونځ ادا کړي هغې لپاره هیڅ اعتراض نشته.

**سوال–34:** د حیض په وخت کې په مسجد الحرام کې د ښځې شتون څه حکم لري؛ د خبرو او خطبو اورېدلو لپاره؟

**جواب–34:** د حائضې ښځې لپاره په مسجد الحرام یا بل کوم جومات کې پاتې کېدل روا نه دي، خو د هغې لپاره روا دي چې له جومات څخه تېره شي او یا له جومات څخه د اړتیا وړ شیان واخلي او یا ورته کارونه؛ لکه څنګه چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم– عایشې –رضي

الله عنها- ته امر وکړ چې خمره[1]راوړی ، هغې وویل: هغه (خمرة) په جومات کې ده، او زه حیض لرم. هغه وفرمایل: ستا حیض ستا په لاس کې نه ده. که یوه حیض لرونکې ښځه له جومات څخه تیریږي او په جومات کې له وینې بهیدو څخه ډاډمنه وي، نو په هغې کې هیڅ حرج نشته.

مګر که هغه وغواړي چې ننوځي او کښیني، دا جواز نلري.

د دې خبرې دلیل دا دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د اختر د لمانځه پر مهال ښځو ته امر کړی و چې د اختر لمانځه ته ولاړې شي (نابالغې، بالغې او حایضه ښځې) پرته له دې چې حیض لرونکې دې د جومات څخه لرې اوسي، دا په دې دلالت کوي چې د حائضې ښځې لپاره په جومات کې د خطبې اورېدلو او یا د درس او احادیثو اورېدل روا نه دي.

***

[1] الخمره: هغه غالۍ ده چې لمونځ کوونکي وربانديې سجده کوي، او خمره ورته ځکه ويل کيږي؛ ځکه چې هغه مخ پټوي، يعنې پوښوي يې.

**سوال-35:** ایا هغه مایع چې له ښځې څخه راوځي -که سپین وی او یا ژیړ- پاک دی که نجس؟ آیا په دې کې اودس لازم دی، سره لدې چې دوام دار شکل باندې راوځي؟ او که په وقفه شکل وي نو حکم څه لري، په خاص ډول چې زیاتره ښځې -او په تېره بیا لوستونکې ښځې- دا طبیعي رطوبت ګڼي، چې هغې باندې اودس لازم نه دی؟

**جواب-35:** له څیړنې وروسته راته معلومه شوه: هغه مایع چې د ښځې له مثانې څخه نه راووځي، بلکې له رحم څخه راووځي، نو پاک دی، که څه هم پاک دی بیا هم اودس ماتوي؛ ځکه چې د اودس ماتونکي لپاره نجس والی شرط نه دی، همدارنګه باد چې له مقعد څخه راووځي، او هیڅ جسم نلري، خو بیا هم اودس ماتوي.

په دې اساس، که د ښځې څخه په داسې حال کې ووځي چې اودس ولري نو اودس یې ماتیږي، اودس باید تازه کړي.

که داومداره وي نو اودس نه ماتیږي، خو د لمانځه لپاره دې اودس وکړي کله چې وخت یې داخل شي، او په دغه وخت کې فرض او نفل لمونځونه، د قرآن تلاوت، او نور مباح کارونه کولی شي چې د هغې لپاره حلال وي، لکه څنګه چې په دې اړه علماوو ویلي دي چې څوک سلس البول (رنځې متیازې ورڅخه رواني وي او دی پرې نه پوهیږي) وي، او دغه حکم د سوال کوونکي د پاکوالي په لحاظ دی، نو هغه پاک دی، او د اودس د ماتیدو له مخې اودس یې ماتیږي مګر دا چې دوامداره وي، که دوامداره وي اودس نه ماتیږي، مګر ښځه باید د لمانځه لپاره تر هغه وخته پورې اودس ونکړي تر څو چې وخت یې پیل شوی نه وي او خپل احتیاط دې وکړي.

خو که دوامداره نه وي، او معمولا د لمانځه په وخت کې قطع کیده، نو تر هغه وخته پورې دې لمونځ وځنډوي چې هغه وخت قطع کیږي، که د وخت له تېرېدو څخه ویره نه وي، او که د وخت له ختمېدو وېریدله، نو هغه باید اودس وکړي، او شرمګاه دې په یوې ټوټې سره تینګه کړي – احتیاط دې وکړي – او بیا دې لمونځ وکړي.

د لږ او ډېر فرق نشته؛ ځکه چې دا ټول له سبیل څخه وتلي دي، نو لږ او ډېر یې ماتوونکي دي، پر خلاف ددې چې د بدن له پاتې برخو څخه راووځي لکه وینه او کانګې، او دا اودس نه ماتوي، که لږ وي او که ډیر.

مګر دا چې د ځینو ښځو عقیده ده چې اودس نه ماتوي، زه د هغې په اړه نه پوهیږم، یواځې د ابن حزم -رحمه الله- له قوله چې وایي: دا اودس نه ماتوي. خو په دې اړه یې هیڅ دلیل نه دی یاد کړی، او که یې له کتاب او سنتو او یا د صحابه وو له اقوال څخه دلیل راوړی وي نو دا به یې دلیل وی.

ښځه باید د الله څخه ویره ولري، او خپل پاکوالي ته دې لیواله وي؛ له پاکۍ پرته لمونځ نه قبلیږي که څه هم سل ځله لمونځ وکړي، بلکې ځینې علماء وایي: هغه څوك چې له پاکۍ پرته لمونځ وکړي کافر کیږي؛ ځکه چې دا د الله سبحانه وتعالی پر آیتونو مسخره کول دي.

**سوال-36:** که هغه ښځه د فرض لمانځه لپاره اودس وکړي چې مایعې اوبه یې دوامداره راوځي، ایا د هغې لپاره روا ده چې د فرض د لمانځه په اوداسه سره تر دویم فرض لمونځه پورې د نفل لمونځ او د قرآن کریم تلاوت وکړي؟

**جواب-36:** که ښځه د فرض لمانځه لپاره له اول وخت څخه اودس وکړي، تر بل لمونځ وخته پورې کولای شي چې فرضي او نفلي لمونځونه او د قرآن کریم تلاوت وکړي.

**سوال-37:** آیا دغې ښځې لپاره د ضحا (څاښت) لمونځ د سهار په اودس سره صحیح دی؟

**جواب-37:** نه، دا نه صحیح کیږي؛ ځکه چې د ضحا (څاښت) لمونځ وقت په شریعت کې ټاکلی شوی دی، نو د وخت له پیلېدو وروسته ورته باید اودس وشي؛ ځکه چې دا د استحاضې په څیر ده، او رسول الله –صلی الله علیه وسلم- هغې ښځې ته چې استحاضه وي امر کړی چې د هر لمانځه لپاره اودس وکړي.

**او د ماسپښین وخت:** له لمر د زوال څخه تر مازیګر پورې دی.

**او د مازیګر وخت:** د ماسپښین د وخت له وتلو څخه د لمر تر ژیړ کیدو پورې ده، او د اړتیا په وخت کې د لمر تر لویدو پورې دی.

**او د ماښام وخت:** د لمر لوېدو څخه د ماښامني سوروالي د ورکیدو پورې دی.

**او د ماخوستن وخت:** د ماښامني سوروالي د ورکیدو څخه تر نیمې شپې پورې دی.

**سوال-38:** آیا دغې ښځې لپاره صحیح ده چې د ماخوستن په اوداسه سره د شپې لمونځ (قیام اللیل) وکړي، کله چې نیمه شپه تیره شي؟

**جواب-38:** نه، که نیمه شپه تېره شوه، نو اودس دې باید تازه کړي، او ځېنو علماوو ویلي چې: د اودس تازه کولو ته اړتیا نشته.

او دا راجح قول دی.

**سوال-39:** د ماخوستن د لمانځه وروستی وخت څه وخت دی؟ او دا څنګه پیژندل کیدی شي؟

**جواب-39:** د ماخوستن د لمونځ وروستی وخت تر نیمې شپې پورې دی، دا پدې شکل پیژندل کیږي چې د لمر پریوتلو او د سهار را ختلو تر مینځ وخت په دوه مساوي برخو وویشل شي نو په لمړي نیمایي ماخوستن قضا شو، او هغه پاتې نیمایي د ماخوستن وخت ندی، بلکې د ماخوستن او سهار تر منځ یوه پرده ده.

**سوال-40:** که دغه ښځه چې دغه مایع په وقفه یې ډول ورڅخه بهیږي اودس وکړي، او د اودس تر بشپړولو وروسته او تر لمانځه مخکې بیا وبهیږي، نو هغه باید څه وکړي؟

**جواب-40:** که په وقفه یې ډول وي هغه دې باید تر هغه وخته انتظار وباسي چې د مایع بهیدل ودریږي، خو که ښکاره وخت ونلري، کله وبهیږي او کله و نه بهیږي، نو د وخت له پیل وروسته دې باید اودس وکړي، او لمونځ دې وکړي، پر هغې باندې هیڅ څه نشته.

**سوال-41:** دغه مایع که پر بدن یا جامو ولګیږي څه باید وشي؟

**جواب-41:** که پاک وي نو پر هغې څه لازم نه دي، او که ناپاک وي - هغه څه چې د مثانې څخه راوتلي وي - نو باید ومینځل شي.

**سوال-42:** د هغه مایع څخه د اودس کولو لپاره، آیا یوازې د اودس د غړو مینځل کافي دي؟

**جواب-42:** هو، دا کافي ده که هغه پاک وي، او دا هغه څه دي چې له رحم څخه راوځي، نه د مثانې څخه.

**سوال-43:** څه وجه ده چې له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه داسې حدیث نه دی را نقل شوی چې پدې مایع سره اودس ماتیږي، حال دا چې ښځینه صحابه د خپل دین په اړه د فتوا غوښتلو ته ډیرې لیوالې وې؟

**جواب-43:** ځکه چې دغه مایع له هرې ښځې څخه نه بهیږي.

**سوال-44:** که ښځه اودس ونه کړي، د هغې د ناپوهی له امله، هغه باید څه وکړي؟

**جواب-44:** هغه باید الله عزوجل ته توبه وباسي، او د علم له خاوندانو څخه پوښتنه وکړي.

**سوال-45:** ځینې خلک دا خبره تاسو ته منسوبوي چې تاسو ددې مایع لپاره اودس کول اړین نه بولی؟

**جواب-45:** هغه څوک چې دا خبره ما ته منسوبوي، هغه ربښتونی نه دي، او داسې ښکاري چې هغه زما د خبرو څخه داسې پوهه شوي کله چې ما وویل: هغه پاک دی. هغه اودس نه ماتوي.

**سوال-46:** د ښځې د حیض څخه یوه ورځ مخکې لږ یا ډیر خړرنګه مایع بهر شي څه حکم لري، او دا مایع د تور نري یا نسواري تار په شکل او یا دې ته ورته وي؟ او که له حیض وروسته وي نو څه حکم لري؟

**جواب-46:** که دا د حیض د پیلیدو څخه وړاندې وي نو دا حیض دی، او دا د دردونو او د خیټې درد له لارې پیژندل کیږي چې معمولا حایضه ښځو باندې راځي.

هر چې خړوالی دی روسته له حیض څخه ، انتظار دې وکړي تر دې چې ختم شي ، ځکه حیض سره پیوسته خړوالی دا حیض دی؛ د عایشې رضي الله عنها د وینا پر اساس: بیړه مه کوه تر څو چې سپین مایع ونه وینې. الله ښه پوهیږي.

***

**سوال-47:** حيض لرونکې ښځې د احرام دوه رکعته لمونځ څنګه وکړي؟ حيض لرونکې ښځې ته روا ده چې په پټه کې د قرآن کريم آيت تکرار کړي او که نه؟

**جواب-47: لومړی:** بايد پوه شو چې احرام لمونځ نه لري؛ له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه ندي راغلي چې هغه د خپل امت لپاره د احرام لمونځ مشروع کړی وي، په دې کې نه قولي نه عملي نه تقريري هيڅ قسم حديث نشته.

**دويم:** هغه حيض لرونکې ښځه چې له احرام نه مخکې حيض ورباندې راغلی وي د احرام نيت کولای شي؛ ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ابوبکر رضي الله عنه مېرمن اسماء بنت عميس رضي الله عنها ته امر کړی و، کله چې په ذوالحليفه کې نفاسه شوه، هغې ته يې امر وکړ چې غسل وکړي،او د کپړې يوه ټوټه خپلې شرمګاه باندې ټينګه ونيسي، او احرام دې وکړي، او همدا حکم د حيض لروونکې ښځې لپاره هم دی، چې په خپل احرام کې پاتې شي تر څو چې هغه پاکه شي، بيا د کعبې طواف او سعي دې وکړي.

او هر چې د هغې دا پوښتنه :چې آيا هغه کولی شي قرآن ولولي؟ هو، حيض لرونکې ښځه د ضرورت يا مصلحت پر اساس د قرآن کريم تلاوت کولی شي، مګر که هغه يوازې دا غواړي چې د عبادت او الله ته د نږدې کيدلو لپاره لولي، نو دا غوره ده چې تلاوت دې ونه کړي.

**سوال-48:** يوې ښځې د حج لپاره سفر وکړ، او مياشتنی عادت يې د سفر له نيټې څخه پنځه ورځې مخکې راغئ، او ميقات ته له رارسيدو وروسته يې غسل وکړ او احرام يې وتاړه، پداسې حال کې چې هغه له مياشتني عادت څخه پاکه شوې نه وه، کله چې مکې مکرمې ته ورسيده، له حرم نه بهر پاتې کيدله، د حج او عمرې کوم مناسک يې اداء نه کړل، او دوه ورځې په منا

کې پاتې شوه، بیا پاکه شوه، بیا یې غسل وکړ او د عمرې ټول مناسک یې اداء کړه پداسې حال کې چې هغه پاکه وه، بیا یې وینه په داسې حال کې ورباندې راغله چې د افاضې په طواف کې وه، خو د شرم احساس یې وکړ او د حج مناسک یې بشپړ کړل، او تر هغې یې خپل سرپرست خبر نه کړ مګر چې کله خپل هېواد ته راورسیده، نو د دې حکم څه دی؟

**جواب-48:** په دې اړه حکم: هغه وینه چې د افاضې طواف په وخت کې پرې راغلې وه، که هغه د حیض وینه وي چې د هغې د طبیعت او دردونو له مخې معلومېږي، نو د افاضې طواف صحیح نه دی، او بیرته مکې ته باید ستنه شي؛ ترڅو د افاضې طواف اداء کړي، او له میقات څخه دې د عمرې لپاره احرام و تړي، او عمره دې له طواف او سعي سره اداء کړي، ویښتان دې لنډ کړي، بیا دې د افاضې طواف وکړي.

خو که دا وینه د حیض وینه نه وي، هغه طبیعي وینه وي چې معلومه ده، بلکې د سختې ګڼې ګونې، ډار او یا داسې نورو څخه راوتلې وي، نو طواف یې صحیح دی د هغو کسانو په نیز چې د طواف لپاره اودس ضرور نه ګڼي.

که چیرته په اوله مسئله کې بیرته نشي ګرځیدلی، پدې معنا چې لیرې هیواد کې وي نو حج یې صحیح دی؛ ځکه چې هغه ددې څخه ډیر څه نشي کولی.

**سوال-49:** یوه احرام کوونکې ښځه د عمرې لپاره راغله، او مکې ته له رسیدو وروسته حیض وربانديې راغی، او د هغې محرم (سرپرست) سمدستي سفر ته اړتیا لري، او په مکه کې د هغې څوک نشته، نو دا څه حکم لري؟

**جواب-49:** له هغه سره باید سفر وکړي، او په خپل احرام کې باید پاتې شي، بیا چې کله پاکه شي، بیرته دې راشي، که په سعودی عربستان کې وي؛ ځکه چې بیرته را تګ ورته اسانه دی، نه په کې څه سټرتیا شته، او نه پاسپورټ او یا بل څه ته ضرورت لري.

مګر که هغه اجنبې وي، او بیرته ستنیدل ورته ستونزمن وي، نو خپله شرمګاه دې یوې کپړې سره تینګه کړي، طواف دې وکړي، سعی دې وکړي، ویښتان دې لنډ کړي، او په همدې سفر کې دې خپله عمره پای ته ورسوي؛ ځکه چې د هغې طواف پدې وخت کې یوه اړتیا ده، او اړتیا منع شوی ځیز روا کوي.

**سوال-50:** په کومې مسلمانې ښځې چې د حج په ورځو کې حیض راشي، ایا د هغې دا حج کافي کیږي؟

**جواب-50:** دې پوښتنې ته تر هغه وخته ځواب نه شو ورکولی ترڅو یوه نه شو چې کله هغې باندې حیض راغلی؟ دا ځکه چې حیض د حج د ځینې عملونو مخه نه نیسي، او د ځینو مخه نیسي، نو طواف نه شي کولای پرته له دې چې پاکه وي، مګر نور مناسک په حیض سره هم ترسره کولی شي.

**سوال-51:** تیر کال مې د حج فریضه اداء کړه، او د طواف وداع او طواف افاضې پرته مې د حج ټول مناسک اداء کړل، ځکه چې شرعي عذر زما مانع شو چې هغه دواړه ترسره کړم، نو زه په مدینه منوره کې خپل کور ته لاړم په دې نیت چې یوه ورځ به بیرته راځم، د دې لپاره چې طواف افاضه او طواف وداع به ترسره کوم، او له شرعي چارو څخه د ناپوهۍ په حالت کې مې له هر څه څخه ځان خلاص کړ، او هر هغه څه مې وکړل چې د احرام په حالت کې حرام دي، نو ما پوښتنه وکړه چې بیرته مکې ته وګرځم او طواف وکړم، نو ماته وویل شو چې ستا لپاره صحیح نده چې طواف وکړې، تا خپل حج باطل کړ، ته باید راتلونکي کال کې خپل حج له سره اداء کړې، او یوه غوا او یا اوښ به هم ذبح کړې، آیا دا صحیح ده؟ ایا بله د حل لاره شته؟ او هغه څه ده؟ ایا زما حج باطل شو؟ ایا زه باید بیرته حج اداء کړم؟ مهرباني وکړئ ما ته مشوره راکړئ چې څه وکړم الله دې برکت درکړي.

**جواب-51:** دا هم له هغه افتونو څخه دی چې له علم پرته فتوا ورکول کیږي، او ته په دې حالت کې باید مکې ته لاړه شي او یوازې طواف افاضه وکړي. او طواف وداع پر تا باندې

نشته ځکه چې له مکې څخه د وتلو په وخت کې تا حیض درلود، او حیض لرونکې ښځې باندې د وداع طواف لازم ندی. د ابن عباس رضي الله عنهما د حدیث له مخې: هغه خلکو ته امر وکړ چې اخري عمل باید د کعبې طواف وي، مګر د حیض لروونکې ښځې لپاره یې تخفیف راوسته.

او د ابو داود په یوه روایت کې راغلي: **(چې ددوی اخري کار باید د کعبې طواف وي).**

ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې وویل شو چې صفیه رضي الله عنها د افاضې طواف وکړ، نو ویې فرمایل: «نو هغه باید لاړه شي». دا په دې دلالت کوي چې د حایضه ښځې څخه طواف وداع کول ساقط دی. مګر طواف افاضه باید ترسره شي، او دا چې له هر څه څخه دې په ناپوهۍ کې ځان خلاص کړ، نو دا کار تا لره کوم زیان نه رسوي؛ ځکه جاهل کس چې د احرام له ممنوع څیزونو څخه یو څه وکړي پر هغه څه لازم نه دي.

د الله تعالی پدی قول سره: {رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا}. [البقرة:286].

(ای زمونږه ربه! مونږ مه نیسه که مونږ (څه حکم) هېر کړو، یا مونږ غلطي وکړه).

الله تعالی وفرمایل: «ما وکړل»، او د هغه وینا: {وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ}. [الأحزاب:5].

(او په تاسو هېڅ ګناه نشته په هغه شي کې چې تاسو په کې خطا شئ او لېکن (ګناه شته د هغه (کار) چې ستاسو زړونه د هغه قصد (اراده) وکړي) ټول هغه ممنوع څیزونه چې الله تعالی پر احرام کوونکي باندې منع کړي دي که هغه یې د ناپوهۍ، هیریدل او مجبورۍ له امله وکړي، په هغه باندې هیڅ نشته، خو کله چې عذر رفع شي، باید هغه څه پریږدي چې هغه سره ورته ستونزه جوړه شوه.

**سوال-52:** که د نفاس لرونکې ښځې نفاس د ترویه (اتم د ذو الحجې) په ورځ پیل شي، او د حج ارکان بشپړ کړي پرته د طواف او سعې څخه، او لس ورځې وروسته دا ورته معلومه شوه

چې اوس د پاکۍ لومړۍ مرحله کې ده، نو ایا ځان پاک کړي، او غسل دې وکړي، او پاتې نور عمل چې ور څخه پاتې ده چې هغه د حج طواف ده ترسره کړي، که نه؟

**جواب-52:** تر هغه وخته پورې غسل او طواف کول روا نه دي تر څو چې د طهارت په اړه ډاډه نه وي، او له دې پوښتنې څخه معلومیږي چې هغې وویل: (لومړۍ مرحله) چې هغې پوره پاکي نه ده لیدلې، نو باید پوره پاکي ووینې، نو کله چې پاکه شي نو غسل دې وکړي او طواف او سعې دې پرځای کړي.

که د طواف نه مخکې سعې وکړي نو هیڅ حرج نشته، ځکه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د حج په وخت کې د هغه کس په اړه پوښتنه وشوه چې له طواف کولو مخکې يې سعې کړې وي، نو ويې فرمایل: په دې کې هیڅ حرج نشته.

**سوال-53:** یوې ښځې د حیض په وخت کې د سیل له میقات څخه د حج احرام وکړ، او کله چې مکې ته ورسېده د اړتیا لمخې جدې ته ولاړه، نو په جده کې يې ځان پاک کړ، ویښتان يې ومینځل، ویښتان يې ګمنځ کړ، او بیا يې خپل حج بشپړ کړ، آیا د هغې حج صحیح دی؟ ایا هغې لره کوم څیز لازم دی چې ويې کړي؟

**جواب-53:** د هغې حج صحیح دی او پر هغې باندې هیڅ نشته.

**سوال-54:** زه عمرې ته روانه یم، او له میقات څخه تیره شوم په داسې حال کې چې ما حیض درلود، نو ما احرام و نه تړلو، او په مکه کې پاتې شوم تر څو چې پاکه شوم، نو له مکې څخه مې احرام وتړلو، ایا دا روا ده؟ یا زه څه وکړم؟ او ما باندې څه لازم دي؟

**جواب-54:** دا کار روا نه دی، او کومه ښځه چې عمره کول غواړي له احرام پرته د میقات څخه نه تیریږي که څه هم حیض ولري، هغه دې احرام وکړي او خپل احرام دې و تړي، او صحیح کیږي، د دې دلیل دا دی چې: د ابو بکر رضي الله عنه میرمن اسماء بنت عمیس رضي الله عنها ماشوم وزیږولو، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ذوالحلیفه څخه ښکته کیده،

د حجة الوداع لپاره، نو هغې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خبر ورساوه چې: زه څه وکړم؟ هغه وفرمایل: «**اغتسلي واستثفري بثوب وأحرمي**».

**«غسل وکړه، او د جامې په یوې ټوټې په ذریعه خپله شرمګاه ټینګه کړه او احرام کې داخله شه».**

او د حایضې ښځې وینه د نفاس لرونکې ښځې د وینې په څیر ده. نو موږ حیض لرونکې ښځې ته وایو چې که له میقات څخه تېره شي، او هغه د عمرې او یا حج اراده کړي وي، موږ ورته وایو: غسل وکړه، او د جامې په یوې ټوټې سره دې خپله شرمګاه ټینګه کړه او احرام کې داخله شه، او د استثفار معنا دا ده: چې د جامې په یوې ټوټې سره دې خپله شرمګاه ټینګه کړي او احرام کې دې داخله شي، که د حج لپاره وي او یا د عمرې لپاره وي، خو که احرام وتړي او مکې ته ورسېږي، خانه کعبې ته دې نه راځي، او طواف دې نه کوي ترڅو چې هغه پاکه شي.

له همدې کبله رسول الله صلى الله عليه وسلم عایشه رضي الله عنها ته چې د عمرې په وخت کې یې حایضه شوه، ورته یې وفرمایل: «**افعلي ما يفعل الحاج غير أن لا تطوفي في البيت حتى تطهري**».

«هغه څه وکړه چې حاجی یې کوي، پرته له دې چې د کعبې طواف وکړې تر څو چې پاکه شوې نه وې» .

دا د بخاري او مسلم روایت دی.

همدارنګه په صحیح البخاري کې عایشه رضي الله عنها ذکر کوي چې کله پاکه شوه نو د کعبې طواف، او د صفا او مروه سعی دې وکړي. دا په دې دلالت کوي چې که ښځه د حیض په حالت کې د حج یا عمرې احرام وتړي، او یا له طواف څخه مخکې ورباندې حیض راشي، نو تر هغه وخته پورې دې طواف او سعې نه کوي تر څو چې پاکه شي او غسل وکړي.

که په پاکوالي کې یې طواف وکړ، او د طواف له ختمیدلو وروسته حایضه شوه، نو باید دوام ورکړي، او سعي دې وکړي که څه هم حایضه وي، او سر ویښتان دې لنډ کړي، او خپله عمره دې ختمه کړي؛ ځکه چې د صفا او مروه تر منځ سعې پاکوالي ته اړتیا نه لري.

**سوال-55:** زه او زما کورنۍ له ینبع څخه د عمرې لپاره راغلو، خو کله چې جدې ته ورسیدلو زما پر ښځې حیض راغی، خو ما له خپلې میرمنې پرته خپله عمره بشپړه کړه، نو زما د میرمنې لپاره څه حکم دی؟

**جواب-55:** ستا د مېرمنې په اړه حکم دا دی: چې تر هغې مودې پورې پاتې شي ترڅو چې پاکه شي، او بیا دې د خپلې عمرې قضایي اداء کړي؛ ځکه چې کله صفیه رضي الله عنها حایضه شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **«ایا هغې موږ بند کړو؟ »** هغوی وویل: **هغې د افاضې طواف کړیدی.** ویې فرمایل: **"هغه باید لاړه شي"** او د هغه صلی الله علیه وسلم دغه وینا چې: **«ایا هغې موږ بند کړو؟»** دلیل دی چې ښځه باید پاتې شي – که د طواف افاضې څخه مخکې حایضه شي- تردې چې پاکه شي، او بیا دې طواف وکړي.

همدارنګه د عمرې طواف د افاضې د طواف په څیر دی؛ ځکه چې دا د عمرې رکن دی، نو که ښځه د عمرې له طواف څخه مخکې حایضه شي، تر هغه وخته پورې دې انتظار وباسي چې پاکه شي، بیا دې طواف وکړي.

**سوال-56:** ایا مسعا د حرم څخه ده؟ ایا حایضه ښځه ورته ننږدې کیدلی شي؟ ایا هغه څوک چې له مسعا څخه حرم ته ننوځي د تحية المسجد لمونځ ورباندې واجب دی؟

**جواب-56:** څومره چې څرګندیږي مسعا له جومات څخه نه ده، نو له همدې امله یې د بیلولو لپاره تر منځ دیوال جوړ کړی، مګر هغه لنډ دیوال دی، او په دې کې هېڅ شک نشته چې دا د خلکو لپاره خیر دی؛ ځکه که هغه جومات کې داخل وی او هغه د جومات برخه

ګرځيدلي وی، نو که ښځه کله د طواف او سعې ترمنځ حايضه شوې وی نو هغه به د سعې کولو څخه منع شوی وی.

نو پدې برخه کې زما فتوا دا ده چې: که له طواف وروسته او له سعې څخه مخکې ورباندې حيض راشي نو سعي دې وکړي؛ ځکه مسعی (هغه ځای چې منډې په کې وهل کيږې) د جومات څخه نه ګڼل کيږي.

او هر چې تحية المسجد ده، د هغې په اړه داسې ويلای شو: که څوک له طواف نه وروسته سعی وکړي، او بېرته جومات ته راشي نو تحية المسجد دې وکړي، او که تحية المسجد پريږدي نو هغه باندې څه نشته. غوره دا ده چې له موقع څخه ګټه پورته کړي، او دوه رکعته لمونځ دې وکړي؛ پدې ځای کې د لمانځه د فضيلت په خاطر.

**سوال-57:** حج مې وکړ، او مياشتنۍ عادت را باندې راغی، له حيا څخه مې چا ته څه و نه ويل، او حرم ته ننوتم، لمونځ مې وکړ، طواف مې وکړ، او سعي مې وکړه، نو زه بايد څه وکړم، د يادونې وړ ده چې دغه وينه د نفاس څخه وروسته راغله؟

**جواب-57:** د حيض او نفاس په وخت کې ښځې ته روا نده چې لمونځ وکړي، که هغه په مکه کې وي، او که په خپل هيواد کې وي او يا په بل کوم ځای کې وي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينا په اساس چې د ښځې په اړه فرمايي: **«أليس إذا حاضت لم تصل ولم تصم»**.

**«ايا داسې نه ده چې کله حيض ولري نو لمونځ دی نه کوي او روژه دې نه نيسي؟»**.

مسلمانانو په دې خبره اتفاق کړی چې د حايضې ښځې لپاره روژه نيول روا نه دي، او د هغې لپاره لمونځ هم روا نه دی.

او د دې ښځې په اړه چې دا کار يې کړی، هغه بايد الله ته توبه وباسي، او د هغه څه لپاره بخښنه وغواړي چې ور څخه پيښ شوي دی.

او د حیض په وخت کې د هغې طواف صحیح نه دی، او د هغې سعې صحیح ده؛ ځکه چې راجح قول دا دی چې په حج کې له طواف څخه سعي ته وړاندیتوب ورکول جواز لري، له همدې امله باید طواف تکرار کړي؛ ځکه چې طواف افاضه د حج له ارکانو څخه یو رکن دی، او دوهم تحلل (خلاصون) له دې پرته نه شي کیدای.

نو په دې اساس دا ښځه له خپل مېړه سره –که واده شوې وي- تر هغه وخته کوروالی نه شي کولای چې طواف یې نه وي کړی، او که واده یې نه وي کړی تر هغه وخته پورې چې طواف یې نه وي کړی د نکاح عقد د هغې لپاره نه کېږي، او الله تعالی ښه پوهېږي.

**سوال-58:** که ښځه د عرفې په ورځ حایضه شي نو څه وکړي؟

**جواب-58:** که کومه ښځه د عرفې په ورځ حایضه شي، نو حج ته دې ادامه ورکړي، هغه څه دې وکړي چې خلک یې کوي، او د کعبې طواف دې نه کوي تر څو چې پاکه شي.

**سوال-59:** که ښځه د جمره عقبې د ویشتلو وروسته او د طواف افاضه د ادا کولو څخه مخکې حایضه شي، هغه او د هغې خاوند له یوې ډلې سره مرتبط وي، نو دغه ښځه باید څه وکړي، پداسې حال کې چې د سفر څخه وروسته بیرته نشي راګرځیدلی؟

**جواب-59:** که د بیرته ستنیدو توان ونلري نو خپل شرمګاه باندې دې د کپړې یوه ټوټه ټینګه ونیسي، بیا د ضرورت له مخې دې طواف وکړي، او هغې باندې هیڅ شی نشته، او د حج پاتې اعمال دې بشپړ کړي.

**سوال-60:** که ښځه له نفاس څخه تر څلوېښت ورځو مخکې پاکه شي، ایا حج یې صحیح دی؟ او که پاکي نه ویني نو هغه دی څه وکړي، پداسې حال کې چې هغه د حج اراده ولري؟

**جواب-60:** که ښځه د نفاس څخه تر څلویښت ورځو مخکې پاکه شي، هغه باید غسل وکړي، او لمونځ دې وکړي، او هر هغه څه دې وکري چې پاکې ښځې یې کوي حتا طواف هم کولی شي؛ ځکه چې نفاس لپاره کمه اندازه نشته.

خو که هغه خپل پاکوالی ونه ویني، نو حج یې صحیح دی، خو تر هغه وخته پورې د کعبې طواف دې نه کوي تر څو چې پاکه شي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حیض لرونکې ښځه د کعبې له طواف څخه منع کړې ده، او پدې برخه کې نفاس لرونکې ښځه د حایضې ښځې په څیر ده.

***